# پروفېسر پرېشان خټک

اداره

غمي جان چې د پرېشان خټک په نوم ئې په ادبي دنیا کښې شهرت لرلو، په لسم دسمبر ۱۹۳۲ کښې د ملک حسن خان په کور کښې په غونډي میرخان خېل ضلع کرک کښې پېدا شوے وۀ. په شپاړسم اپرېل ۲۰۰۹ اسلام اباد کښې وفات شو. انا لله و انا الیه راجعون. او په بله ورځ یعني اوولسم اپرېل ئې په حیات اباد پېښور کښې درنه جنازه وشوه او هم هلته خاورو ته وسپارلے شو. په ګور ئې نُور شه.



پروفېسر پرېشان خټک شاعر، ادیب، محقق، نقاد، مورخ او یو ډېر ښۀ مقرر وۀ. په پښتو ادبي دنیا کښې یو پېژندلے شخصیت وۀ. د پښتو اکېډمۍ په اولنو استاذانو کښې د مولانا عبدالقادر په سرپرستۍ کښې د پښتو ژبې استاذ پاتې شوے وۀ او ډېر زیات شاګردان ئې پېدا کړي وو.

د هغې نه وروستو بیا د پښتو اکېډمي ډائرېکټر مقرر شوے وۀ چې د یکم جولایۍ ۱۹۷۵ نه تر شپږ ویشتمې جنورۍ ۱۹۷۹ په دغه عهده پاتې شوے وۀ. په دغه حساب د پښتو اکېډمي د مجلې "پښتو" اېډیټر هم پاتې شوے وۀ. د دوي د ډائرېکټرۍ په دوران کښې پښتو اکېډمي ډېر ادبي او تحقیقي کارونه تر سره کړي وو او ګڼ کتابونه ئې چاپ کړي وو چې ځنې پکښې د دوي د انفرادي تحقیق او زیار نتیجه وه.

وروستو بیا پرېشان خټک صاحب د ګومل یونیورسټۍ ډېره اسماعیل خان وائس چانسلر مقرر شوے وۀ. د هغې نه پس د اکادمي ادبیات اسلام اباد چئیرمېن هم پاتې شوے وۀ. د هغې نه پس بیا د یونیورسټي ګرانټس کمېشن چې اوس ورته هائر اېجوکېشن کمېشن وائي چئیرمین هم ټاکلے شوے وۀ.

پرېشان خټک صاحب یو ډېر تجربه کار انسان وۀ او دغه وجه وه چې په ډېرو اهمو پوستونو ئې کار کړے وۀ. یو وخت کښې د ازاد جمو کشمیر د وزیر اعظم مشیر هم مقرر شوے وۀ چې وروستو بیا د الخېر یونیورسټۍ ازاد جمو کشمیر رېکټر ولګولے شو. سیاسي تړون ئې د مسلم لیګ نواز لیګ سره وۀ او تر مرګه ئې دغه تعلق هغوي سره وساتلو. د ادبي خدماتو په اعتراف کښې ورته د پاکستان حکومت صدارتي تمغه ورکړې وه.

پروفېسر پرېشان خټک په خپل اووۀ اویا کاله ژوند کښې د عملي ژوند او روزګار نه علاوه شاعري هم کړې وه. مقالې او مضامین ئې هم ډېر لیکلي وو او د ډېرو کتابونو مصنف، مؤلف هم وۀ او په حېثیت د یو مورخ ئې هم شناخت لرلو.

د پرېشان خټک د ځنو کتابونو نومونه دا دي:

(۱) تنهاکي (شعري مجموعه) (۲) هغه دوه ملالې سترګې (شعري مجموعه) (۳) درنه پښتو (نثر) (۴)

سـرحدي قبائـل کے رسـم و رواج (اردو نثـر) (۵) پشــتون کـون؟ (اردو نثر) (٦) لیـک دود (نثـر) (۷) اتـوپ لسـاني رابطه (اردو نثر) د محمد اسحاق صاحب او حاجي پـردل خـان سـره پـه شـریکه. (۸) د پښـتنو ادیبـانو فهرسـت (۹) کلام خوشـحال خـان خټـک (اتـۀ ټوکـه پـه اردو نثـر کښـې ترجمه)